# د الله پاک ویره اورول

# د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام سُنَّت دي

**(16-October-2025)**

هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پهٔ 16 اکتوبر، کال 2025ء (مطابق: 22 ربیع الآخر، کال 1447ھ)

د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د الله پاک ویره اورول د انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلام سُنَّت دي

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د کامِل مؤمِن یوه نخښه
- څوک چې ژړیږي جَنَّت ته به داخلیږي
- د 70 زاهدانو عبرتناک انجام
- د حضرت مالِک بن دِینا رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د توبې واقعه

پیشکش

اَلۡمَدِیۡنَةُ الۡعِلۡمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د چا چې دا خوښه وي چې د الله پاک بارګاه ته د پيش کيدو په وخت الله پاک د هغۀ نۀ راضي وي، هغۀ له پکار دي چې په ما باندې په کثرت سره دُرُود شريف لولي- (1)

اے دينِ حق کے رہبر تم پر سلام ہر دم | ميرے شفيعِ محشر تم پر سلام ہر دم
اس بے کس و حزيں پر جو کچھ گزر رہی ہے | ظاہر ہے سب وہ تم پر، تم پر سلام ہر دم
اپنے گدائے دَر کی ليجے خبر خدارا | کيجے کرم حسنؔ پر تم پر سلام ہر دم (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- (3)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې

---

1...فردوس الاخبار، جلد:2، صفحہ:284، حديث:6083۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ:168-169 ملتقطاً۔
3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حديث:1۔

د بيان اوريدو نه مخکښي څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د **اللّٰہ** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، ځانله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دوه عظيم خيزونه مهٔ هيروئ---!!

د صحابئ رسول حضرت عبدُ اللّٰہ بن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھما نه روايت دے، فرمائي چې يو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خطبه کښې وفرمائيل: (اے خلقو--!!) دوه عظيم خيزونه مهٔ هيروئ--!! (1): يو جَنَّت (2): او بل دوزخ۔

پهٔ دې وئيلو رسول اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ژړا شو، دومره يې وژړل چې د ګيرې مبارکې غاړې يې پهٔ اوښکو باندې لمدې شوې۔ بيا يې وفرمائيل: پهٔ هغه ذات مې دې قَسم وي! د چا پهٔ قبضه کښې چې د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ځان دے، د اخرت پهٔ باره کښې که تاسو د هغه څهٔ نه خبر وئ، د څهٔ نه چې زهٔ خبر يم نو تاسو به د غرونو طرف ته وتلي وئ او پهٔ خپلو سرونو باندې به مو خاورې اچولې۔ [1]

| | |
|---|---|
| مجھے سچّی توبہ کی توفیق دیدے | پئے تاجدارِ حرم یاالٰہی! |
| مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے | ہو مجھ ناتُواں پر کرم یاالٰہی! (2) |

## د کامِل مؤمِن يوه نخښه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حديثِ پاک کوم چې مونږ واوريدو، د دې نه ډيرې خبرې

1...موسوعہ ابن ابی دنیا،صفۃ النار،جلد:6،صفحہ:399،حدیث:2۔
2...وسائلِ بخشش،صفحہ:109-110ملتقطاً۔

د زده کیدو د پاره میلاؤیږي- د ټولو نه وړومبے خو دې نصیحت ته توجه وکړئ کوم چې محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته وفرمائیلو چې لَاتَنْسَوُاالْعَظِیْمَتَیْنِ الجنّةَ والنَّارَ دوه عظیم څیزونه مهٔ هیروئ--!! (1): جَنَّت (2): دوزخ-

معلومه شوه چې د یو مسلمان شان داسې وي چې هغه جَنَّت او دوزخ همیشه د خپل نظر وړاندې ساتي ❀ که هغه پهٔ کور کښې وي، نو بیا هم هغه د جَنَّت او د دوزخ تصور کوي ❀ که هغه پهٔ دفتر کښې وي نو بیا هم د جَنَّت او د دوزخ تصور کوي ❀ که هغه پهٔ بازار کښې وي نو بیا هم هغه د جَنَّت او د دوزخ خیال ساتي ❀ که پهٔ سفر کښې وي نو بیا یې هم یاد ساتي ❀ غرض دا چې کامِل ایمان والا هغه دے کوم چې جَنَّت او دوزخ همیشه د خپلو سترګو د وړاندې ساتي، دا دواړه چرې هم نهٔ هیروي-

## د چا زړهٔ چې د ایمان پهٔ نُور باندې منور شي

حضرت حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحابیٔ رسول دے، یو ځل بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترینه پوښتنه وکړه: كَيْفَ اَصْبَحْتَ يَاحَارِثَه؟ اے حارثه! ستا پهٔ کوم حال کښې سحر شو؟ عرض یې وکړو: اَصْبَحْتُ مُؤْمِناً حَقًّا یعني یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما پهٔ داسې حال کښې سحر کړو چې ما پهٔ الله پاک باندې رښتونے اِیمان لرلو- اوئې فرمائیل: د دې څهٔ دلیل دے چې تهٔ رښتوني اِیمان والا یې؟

بیا حضرت حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل زړهٔ حالت بیان کړو، پهٔ هغې کښې یې دا عرض هم وکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما حالت دا دے چې لکه زهٔ جَنَّت پهٔ خپلو سترګو باندې وینم، جَنَّتیان د یو بل سره ملاقات کوي، هم داسې لکه چې زهٔ دوزخ هم پهٔ سترګو وینم چې هغوئې چغې سورې جوړې کړې دي-

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا خبره واوريدله نو اوئې فرمائيل: اَلۡزِمۡ (ډير مبارک حالت دے) په دې باندې ثابِت قدم اوسه- بيا يې وفرمائيل: مُؤۡمِنٌ نَوَّرَ اللّٰہُ قَلۡبَهٗ يعني (حارثه هُغه مؤمن بنده) دے چې الله پاک د هغه زړۀ (د ايمان په نُور باندې) منور کړے دے-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! معلومه شوه چې د مسلمان بنده دا شان وي چې هغه جَنَّت او دوزخ هميشه د خپلو سترګو د وړاندې ساتي او کوم بنده چې دا عظيم کار کوي، که هر چرته وي، د خپل نظر تصور د جَنَّت نه هم نۀ لرې کوي او د دوزخ نه يې هم نۀ لرې کوي، الله پاک داسې خوش قِسمته زړۀ د ايمان په نُور باندې روښانه کوي-

## دا خو غافِله شوي دي---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له پکار دي چې په خپل ژوند کښې دا خبره نافِذ کړو چې ❀ که ګرځو ❀ ناست يو، ولاړ يو ❀ په کور کښې يو ❀ په دُکان کښې يو ❀ په کار کښې يو ❀ د ارام په وخت ❀ چرته چې هم يو ❀ په کوم حالت کښې هم يو ❀ چې په هر حالت کښې يو، پکار دي چې د جَنَّت او د دوزخ تصور کوو- روايت دے: چې خلق په يو محفل کښې کښيني او بيا په خپل محفل کښې د جَنَّت او د دوزخ ذِکر اونکړي نو فرښتے وائي: دا خلق د 2 عظيمو څيزونو (يعني جَنَّت او دوزخ) نه غافله شوي دي-[2]

| | |
|---|---|
| آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں | سامان سو برس کا ہے، پَل کی خبر نہیں |
| کُوچ ہاں! اے بے خبر ہونے کو ہے | کب تلک غفلت..! سحر ہونے کو ہے |

1...مسند بزار، جلد:13، صفحہ:333، حدیث:6948۔

2...موسوعہ ابن ابی دنیا، صفۃ النار، جلد:6، صفحہ:399، حدیث:3۔

## د دوزخ ګرمي به څنګه برداشت کړے شو

❁ د **الله** پاک نبي حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام د **الله** پاک نه ډیر ویردونکے وو، یوه ورځ هغوئي د تنور په خوا تیریدلو، په هغې کښې وور بلیدو، په دې لیدلو هغوئي ته د دوزخ وور وریاد شو، هغوئي په زړه کښې ویریدل، بے قراره شو او په زمکه یے تشریف راوړو او دومره ولړزیدو، نزدې وه چې د هغوئي جوړونه جدا شوي وو ❁ په ګرمۍ کښې چې به کله حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام غرمو ته شو نو وئیل به یے: **اے الله پاکه! مونږ ستا د جوړ کړے شوي نمر ګرمي نشو برداشت کولے نو د دوزخ ګرمي به څنګه برداشت کړے شو؟** (1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** غور وکړئ چې دا د **الله** پاک نبي دے، معصوم دے، د ګناهونو نه یقیناً چې پاک دے، پوخ جَنَّتي دے، پته نۀ لګي چې د څومره خلقو جنت د تللو باعث به جوړیږي، د دې باوجود به یے دوزخ څنګه همیشه د سترګو د وړاندې ساتلو- کاش چې زمونږ هم دا سعادت نصیب شي- کاش چې مونږ هم دوزخ همیشه د سترګو د وړاندې لرونکي جوړ شو- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د دوزخ نه ویرول کول

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ حدیثِ پاک واوریدو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خطبه کښې وفرمائیل: خلقو--!! جَنَّت هم یاد ساتئ، دوزخ هم یاد ساتئ--!!

د دې ځائے نه مونږ ته معلومه شوه چې زمونږه آقا او مولیٰ، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کوم بیانونه کول، د هغه بیانونو په موضوعاتو کښې به **د الله پاک نه د ویریدو**

1...تنبیہ المغترین، صفحہ:57-

موضاعات هم شامل وو۔

نن صبا چې کله یو مذهبي شخص یا مُبلغ د **اللّٰه** پاک نه د ویریدو خبرې کوي، د دوزخ ذِکر کوي، د **اللّٰه** پاک د ویرې نه پخپله هم ژاړي او نور هم ژړوي نو بعضې نادانه وائي چې مولیان خو بس صرف ویرول کوي۔

آو جي! مونږ ویرول کوو۔ ولې ویرول کوو؟ ځکه چې د دوزخ ذِکر کول، د قیامت وحشت ناک منظرونه خلقو ته بیانول، د قبر د وحشت په باره کښې خلق خبرول زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **سُنَّت مبارک** دي۔

## اے خوږه محبوبه! خلق ویروهٔ---!!

**اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې خپل خوږ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُمْ فَاَنْذِرْ ۪ۙ(۲) (پارہ:29، سورۂ مدثر، آیت:2) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: ودریږه، بیا ویره واوروه! |

د **بخاري شریف** د حدیثِ پاک مُطَابِق دا آیتِ کریمه د اعلانِ نبوت نه پس بالکل په شروع دور کښې نازل شو (1)

معلومه شوه چې د دِین د تبلیغ پهٔ معامله کښې وړومبے حکم هم دا دے: ودریږه---!! ویره واوروه---!! ځکه خلق ویرول، ویره اوږول ضروري دي۔ **دا د دِین د تبلیغ یوه ډیره بنیادي حصه ده۔**

## قرآن هم د ویرولو د پاره راغلے دے

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** قرآنِ کریم کوم چې د هدایت کتاب دے، د کوم پهٔ لوستلو

---

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:66، حدیث:4۔

چې د لکونو نهٔ بلکې د کروړونو خلقو ژوند بدل شوے دے، د کوم حقونه پوره کوونکي، د کوم پهٔ تعلیماتو باندې چې عمل کوونکي د ولایت اوچتو درجو ته رسیږي، هُغه قرآنِ پاک بنیادي طور هم دې د پاره راغلے دے چې د دې پهٔ ذریعه خلق ویرولے شي- آؤ جي! **اللّٰہ** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ كَذٰلِكَ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَ مَنْ حَوْلَهَا وَ تُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَ فَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ ﴿۷﴾ (پارہ:25 ، سورۂ شوریٰ:7)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هُم دغسې مونږه ستا طرف ته د عربی قرآن وحي در اولیږله د پاره د دې چې تهٔ د مرکزي ښار والؤ او د دې نه ګیر چاپیره اوسیدونکو ته ویره واوروې.

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې قرآنِ کریم هُم دې د پاره نازل کړے شوے دے چې د دې پهٔ ذریعه د خلقو پهٔ زړونو کښې ویره پیدا کړے شي-

## ویرونکي خیر خواهان دي

اوس چې مونږ د دې آیت مبارک پهٔ نظر کښې د ساتلو سره لږ غور وکړو: ❁ **قرآنِ کریم د هدایت کتاب دے** او نازل ولې شو؟ **پهٔ زړونو کښې د اللّٰہ** پاک **د ویرې زیاتولو د پاره**- معلومه شوه چې د **اللّٰہ** پاک نه ویره د هدایت میلاؤیدو ذریعه ده ❁ **د قرآنِ کریم پهٔ ذریعه قومونه ته عروج ،ترقي او اوچت والے میلاؤیږي** او قرآنِ کریم ولې نازل شو؟ پهٔ زړونو کښې د **اللّٰہ** پاک نه د ویرې زیاتولو د پاره- معلومه شوه چې د **اللّٰہ** پاک نه د ویرې پهٔ برکت عروج ، ترقي او اوچت والے نصیب کیږي ❁ **قرآنِ کریم د اللّٰہ پاک قُرب ورکوونکے کتاب دے** او نازل ولې شو؟ پهٔ زړونو کښې د **اللّٰہ** پاک نه د ویرې زیاتولو د پاره- معلومه شوه چې د

الله پاک نه د ویریدو پهٔ برکت د الله پاک قُرب نصیب کیږي ❁ داسې غور کوئ! ❁ پهٔ قرآنِ کریم کښې د مخکښینو وروستنو عِلم دے ❁ قرآنِ کریم نُور دے ❁ قرآنِ کریم د الله پاک مضبوطه رَسیٔ ده ❁ قرآنِ کریم نجات دے ❁ قرآنِ کریم شفاعت کوونکے دے او نازل ولې شو؟ پهٔ زړه کښې د الله پاک د ویرې زیاتولو د پاره، لهٰذا معلومه شوه چې که چرې مونږ پهٔ خپل زړهٔ کښې د الله پاک، د قیامت د ورځې، د هغه پهٔ بارګاه کښې د حاضریدو ویره زیاته کړو نو د دې پهٔ برکت به مونږ ته عروج ، ترقي هم میلاؤیږي، پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې به نجات هم نصیب کیږي، حکمت به مو هم نصیب کیږي او که الله پاک وغوښتل نو مونږ به د شفاعت حقدار هم جوړ شو۔

د دې نه معلومه شوه چې کوم خلق مونږ ویروي، کله د قیامت ذِکر شروع کوي، کله د دوزخ خبرې کوي، کله د قبر وحشتونه بیانوي، کله د مرګ سختیٔ بیانوي، دا خلق پهٔ اصل کښې مونږ د ترقیٔ، کامیابیٔ، اوچت والي او الله پاک ته د نزدې کیدو د حقدار جوړولو کوشش کوي۔

| | |
|---|---|
| محبت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی! |
| مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دم | ترے خوف سے یاخدا یاالٰہی! |
| ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی! (1) |

## زمونږه آقا نَذِیر دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! قرآنِ کریم ولې نازل شو؟ د دې د پاره چې خلق ویروي۔ اوس واورئ! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف ولې راوړلو؟ الله پاک فرمائي:

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:105 ملتقطاً۔

لِیَكُوۡنَ لِلۡعٰلَمِیۡنَ نَذِیۡرَا ۙ﴿۱﴾ (پارہ:18، سورۂ فرقان:1)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: چې هغه ټول جهان ته ویره اورورونکے شي-

معلومه شوه چې زمونږه خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **نَذِیر** راغلے دے، د هغوئي یو نوم **نَذِیر** هم دے- د دې معنیٰ ده: **ویره اورونکے**- معلومه شوه چې خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ویره اوروونکے نبي دے-

## خلقو! د دوزخ نه ویرېږئ---!!

د حضرت عدِي بن حاتِم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے، فرمائي: یوه ورځ محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دوزخ تذکره فرمائیله، پهٔ بیانولو بیانولو کښې یې دوزخ نه [د **اللہ** پاک] پناه اوغوښته.

پهٔ دې دوران کښې رسول اللہ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ مبارک یو طرف ته واړولو- بیا یې (زمونږ طرف ته مخ کړو او) دوزخ نه یې [د **اللہ** پاک] پناه اوغوښته! بیا یې مخ مبارک واړولو، پهٔ دریم ځل یې بیا دوزخ نه [د **اللہ** پاک] پناه اوغوښته او مخ مبارک یې واړولو.

صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (بیا بیا مخ مبارک اړولو او د مخ مبارک تاثراتو دا وئیل) لکه چې دوزخ یې لیدلو (ځکه به یې د ښهٔ نهٔ لګیدو په وجه مخ مبارک اړولو)- بیا یې وفرمائیل: اِتَّقُوا النَّار یعني اے خلقو! د دوزخ نه ویرېږئ---!![1]

تو ڈر اپنا عنایت کر، رہیں اِس ڈر سے آنکھیں تر
مٹا خوفِ جہاں دل سے، مٹا دنیا کا غم مولیٰ [2]

---

[1]...بخاری، کتاب الادب، باب طیب الکلام، صفحہ:1501، حدیث:6023 مفہوماً۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:98۔

# څوک چې ژړيږي جَنَّت ته به داخليږي

د حضرت جَرير بن عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، د نبيانو سردار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته وفرمائيل: زۀ ستاسو پۀ مخکښې سُورةُ التَّكاثُر لولم پۀ تاسو کښې چې څوک وژاړي هغه به جَنَّت ته داخليږي- نو د مدينے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُورةُ التَّكاثُر تلاوت اوکړو- پۀ مونږ کښې بعضو خو وژړل او بعضو اونۀ ژړل- چا چې اونۀ ژړلے شو نو هغوئي عرض وکړو، يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! مونږ د ژړيدو کوشش اوکړو خو اونۀ ژړيدے شو- د مدينے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: زۀ ستاسو پۀ مخکښې دا بيا لولم څوک چې وژاړي، د هغۀ د پاره به جَنَّت وي او څوک که نشي ژړلے نو هغه دې ژړغونے شکل جوړ کړي- (1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې دا د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ادا ده- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چې بيان فرمائيلو نو پخپله به يـې هم ژړل، نور به يـې هم ژړول- لهذا چې نن کوم مبلغين ژاړي، ژړول کوي، د الله پاک نه د ويريدو والا خبرې کوي، دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ادا د ادا کولو سعادت حاصلوي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د خدائے د ويرې په تعلق سره مکتبةُالْمدينه يو ډير ښکلے کتاب د "خوفِ خُدا" په نوم شائع کړے دے، په دې کتاب کښې د خدائے د ويرې متعلق قرآني آيتونه او حديثونه بيان کړے شوي دي، د دې سره سره د پخوانو بزرګانو د خدائے د ويرې نه ډک واقعات هم پکښې ذکر کړے شوي دي. دا کتاب د مکتبةُالْمدينه د هرې څانګې نه په قيمت طلب کړئ يا يـې د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه

1...شعب الايمان، تعظيم القرآن، فصل البكاء...الخ، جلد:2، صفحه:363، حديث:2053۔

فري ډاؤن لوډ کړئ، پخپله يــې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

## صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د دوزخ نه ويرول وکړل

حضرت بَکـَر مُزني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي: صحابئ رسول حضرت اَبُو موسیٰ اَشعرِي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ بصره کښې وو، هغوئي خطبه ورکړه، پۀ خطبه کښې هغوئي د دوزخ ذِکر شروع کړو او د دوزخ ذِکر يــې پۀ داسې احساساتو سره وکړو چې د هغوئي پۀ مخ اوښکې رابهيدلې او پۀ منبر باندې راپريوتلې- پۀ هٰغه ورځ د صحابئ رسول پۀ اِجتماع کښې خلقو ډير ژړل- (1)

ترے خوف سے، تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یااِلٰہی! (2)

## ويروونکي خو ښۀ دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ويرول پۀ دوه قِسمه وي: (1): يو وي چې خطره موجوده نۀ وي، بنده بيا هم ويرولے کيږي، مثلاً مونږ پۀ يوه لاره باندې روان يو، لاره بالکل صفا ده، انسان هسې بے هيڅه ووائي: مخکښې مۀ ځه- مخکښې ډاکوان دي، پۀ احتياط سره ځه، مخکښې کوهے دے- دا ويرول خو يقيناً چې ښۀ نۀ دي- څوک چې داسې ويرول کوي، بد کوي- (2): بَل قِسم ويرول داسې وي چې مخکښې خطره موجوده وي ، اوس که څوک انسان ويرول وکړي نو داسې ويرولو والا چې کوم دے، هغه زمونږ خير خواه دے، تاسو وګورئ چې ډاکټر صاحب خو هم ويرول کوي؟ چې وروره---!! فلانکے فلانکے څيز مۀ خوره، ګني کينسر به دې شي- فلانکے څيز مۀ خوره، ګني د زړۀ د دورې خطره به زياته شي- داسې چې کوم ډاکټر وي، کوم چې زمونږ حالت ته پۀ کتلو د مخکښې نه

---

1...موسوعہ ابن ابی دنیا، کتاب الرقۃ والبکاء، جلد:3، صفحہ:190، حدیث:103۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:105 ملتقطاً۔

اطلاع راکړي، داسې ډاکټر مونږ بد ګڼو که ښۀ یــې ګڼو؟ یقیناً چې ښۀ یــې ګڼو ځکه چې هغه مونږ د مخکښې نه د خطرې نه خبروې -

هم داسې مخکښینو ❁ انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام هم خلقو ته ویره اوروليې ده ❁آخري نبي، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم خلقو ته ویره اوروليې ده ❁ صحابۀ کرامو عَلیهمُ الرِّضوَان هم ویره اوروليې ده ❁ اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم هم ویره اوروليې ده ❁علمائے کرامو هم ویره اوروليې ده نو دا ویره اورول هسې نۀ دي، د قبر کنده زمونږ مخې ته موجود ده ❁ قیامت راتلونکے دے ❁ د قیامت منظر ډیر وحشتناک دے، ضرور به راځي ❁دوزخ ډیر خطرناک دے او واقعي چې دے- لهذا چې ثوک مونږ ته د قبر ته د کوزولو نه مخکښې د قبر حالات بیانوي ❁ قیامت ته د رسیدو نه مخکښې د هُغه ځائے حالات بیانوي، هغوئي خو ښۀ کوي چې قبر ته د کوزیدو نه هُم مخکښې مونږ د ټولو خطرو نه خبروي-

لهذا چې ثوک مونږ ویروي، کله راته د اللّٰہ پاک ویره بیانوي ❁ کله راته د دوزخ ذِکر کوي ❁ کله راته د قیامت وحشت ناک منظر بیانوي، د داسې خوش قِسمته او د حکمت نه د کار اخستونکي مبلغ شکریه ادا کول پکار دي چې هغه مونږ د مخکښې نه خبر کړي یو-

## د اللّٰہ پاک ویره اورول د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! چې ثوک مونږ ته د اللّٰہ پاک نه د ویریدو والا خبرې کوي نو پۀ هغۀ باندې د اعتراض کولو پۀ ځائے، د دې وئیلو پۀ ځائے چې دۀ ته وګوره! مولا صاحب خو بس ویرول کوي، مونږ له پکار دي چې مونږ د هغۀ خبره واورو، پۀ زړۀ کښې یــې کښینوو او پۀ زړۀ کښې د خوف خدا زیاتولو والا جوړ شو-

تاسو قرآنِ کریم ولولئ چې ثومره انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام هم تشریف راوړے دے، ټولو د خلقو د ویرولو د پاره تشریف راوړے وو، البته! چې کله انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام ویرول کول نو مخامخ خلق دوه قِسمه شو- زۀ د قرآنِ کریم پۀ رڼا کښې د دې دواړه قِسمه خلقو

انجام مختصر طور بيانووم- پۀ دې اوريدو مونږ له فيصله دا کول دي چې آيا مونږ ته پۀ ويره اوريدو پۀ اعتراض کوونکو کښې شامليدل دي که ويريدونکي جوړيدل پکار دي؟ واورئ! ❁ د **الله** پاک نبي حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو، اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۰۷﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه زۀ ستاسو د پاره يو امانتدار رسول يم- نو د **الله** نه ويريږئ او زما تابعداري اوکړئ- |

(پارہ:19، سورۂ شعراء:107، 108)

خلق پۀ دوه قِسمه شو: صرف 80 ګسان د **الله** پاک نه ويريدل، باقي خلقو اعتراضونه شروع کړل- بيا سيلاب راغلو، **الله** پاک پۀ هُغه خطرناک سيلاب کښې 80 ګسان بچ کړل، باقي ټول يـې هلاک کړل-

❁ د عاد قوم طرف ته حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو، اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۰۷﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه زۀ ستاسو د پاره يو امانتدار رسول يم- نو د **الله** نه ويريږئ او زما تابعداري اوکړئ- |

(پارہ:19، سورۂ شعراء:125، 126)

قوم پۀ دوو حصو کښې تقسيم شو، ځيني خلق خو د **الله** پاک نه ويريدل، ايمان يـې راوړو، باقي اونۀ ويريدل، اُلټا يـې اعتراض شروع کړو، **الله** پاک پۀ هغوئي باندې د خطرناک طوفان عذاب نازل کړو، کوم چې ويريدونکي وو، هغوئي محفوظ پاتې شول، کوم چې اعتراض کوونکي وو، ټول پۀ ټوله هلاک او برباد شول-

❁ حضرت لُوط عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو، اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوْنِ ﴿۱۶۳﴾ | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د **الله** نه ويريږئ او زما تابعداري اوکړئ- |

(پارہ:19، سورۂ شعراء:163)

کومو چې د هغوئي خبره واوريدله، کوم چې ويريدل نو هغوئي بچ شول، کوم چې اونهٔ ويريدل، اُلټا يې اعتراضونه شروع کړل، **الله** پاک حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم وکړو: هغوئي ټول علاقې والا پهٔ وزرو باندې اوچت کړل، د اسمان طرف ته يې بوتلل او پړمخ يې را وغورځول، د بَره نه يې پهٔ هغوئي باندې د کاڼو باران وکړو۔

❁ **الله** پاک د اَيکه والؤ طرف ته حضرت شعيب عَلَيْهِ السَّلَام راوليږلو، هغوئي وفرمائيل:

**فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوْنِ ﴿۱۶۳﴾**

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو د **الله** نه ويريږئ او زما تابعداري اوکړئ.

(پاره:19، سورهٔ شعراء:179)

نو څوک چې ويريدونکي وو، ويريدل، نورو اعتراض شروع کړو، څوک چې اعتراض کوونکي وو، پهٔ هغوئي باندې عذاب راغلو او هلاک شول، څوک چې ويره اوريدونکي، ويره منونکي وو، هغوئي پهٔ دُنيا کښې هم د عذاب نه بچ شول او پهٔ اخرت کښې به هم بچ شي۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دوه قِسمه خلق دي، يو خو هغه دي څوک چې ويره اوريدونکي دي، د قبر خبره چې وکړے شي، د اخرت خبره وکړے شي، د قيامت خبره وکړے شي، د دوزخ ذِکر چې وکړے شي نو هغوئي ويره هم اوري، پهٔ زړهٔ کښې ويره هم کښينوي، داسې خوش قِسمته پهٔ دُنيا کښې هم کامياب شي، پهٔ اخرت کښې هم کامياب شي او کوم خلق چې نهٔ ويريږي، اُلټا اعتراضونه کوي، هغوئي پهٔ سخته خطره کښې دي۔ **الله** پاک دې مونږ ويريدونکي جوړ کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د يو اِنساني فِطرت بيان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! يوه خبره عرض کوم: مونږه انسانان يو، دوه څيزونه

زمونږ پهٔ فِطرت کښې موجود دي: (1): اُمِّيد (2): ويره- د حکمت خبره دا ده چې زياتره خلق د ويريدو پهٔ ذريعه خبره خو اومني، د اُميد پهٔ ذريعه يې نهٔ مني- د مثال پهٔ توګه ډاکټران صاحبان مونږ ته د ډيرو څيزونو فائدې ښائي ❀ منې خورئ! دا فائده به وي ❀آنار خورئ! دا فائده به وي- آيا مونږ د هغوئي خبره منو؟ نهٔ يې منو- ډير لږ خلق يې مني- خو چې کله ډاکټران صاحبان مونږ ويروي: ❀ فلانکے څيز مهٔ خوره، ګنې نو بيماري به دې زياته شي- بيا خلق پرهيز کوي-

معلومه شوه چې زمونږ پهٔ فِطرت کښې دا خبره شامله ده چې مونږ چې ويريږو نو ډيره زر خبره منو.

## د حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د توبې واقعه

حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي ولئ کامِل دے، د توبه کولو نه مخکښې هغوئي د نشې عادت لرلو، هغوئي يو ځل د قيامت يو وحشت ناک خوب وليدو، هغه د هغوئي د توبې سبب جوړ شو، هغوئي توبه کړه او د ولايت اوچتې مرتبې ته ورسيدو- هُغه خوب څهٔ وو؟ پهٔ کتابونو کښې ليکلي شوي دي چې: د هغوئي يوه لور وه، هغوئي د هغې سره ډيره مينه کوله- د هغوئي هُغه لور وفات شوه- د لور د وفات نه پس هغوئي يوه ورځ خوب وليدو، څهٔ ګوري چې د قيامت خطرناک منظر دے، هغوئي د خپل قبر نه راوتلو، ورسره يو لويه اژدها هم د قبر نه راوتله او پهٔ هغوئي پسې وريسې شوه، هغوئي د هغې اژدها دويري نه منډه کړه، هُغه اژدها هم پهٔ هغوئي پسې ورتيزه شوه، هغوئي پهٔ منډه منډه د يو کمزوري بوډا خوا له ورسيدو،هغهٔ ته يې اواز وکړو چې ما د دې اژدها نه بچ کړئ! خو هُغه بوډا جواب ورکړو چې زهٔ کمزورے يم، زهٔ تاسو د دې نه نشم بچ کولے- حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ منډه منډه يو غر ته وختو، هلته ځپرونه او خيمې لګيدلې وې، ناڅاپه يو اواز راغلو: دا نا اُميده د دښمن ځُلې ته د تلو نه مخکښې پهٔ خپله ولقه کښې واخلئ! نو

ډیرو ماشومانو هغوئي پهٔ خپله ولقه کښې واخستو، پهٔ کومو کښې چې د هغوئي هُغه لور هم وه، هغه د هغوئي خوا له راغله، هُغه اژدها یــې چې ووهله نو هغه وتښتیده او بیا هُغه لور د هغوئي پهٔ غیږه کښې کیناسته، هغې ورته ته ووئیل چې بابا جانه! دا اژدها پهٔ اصل کښې ستاسو بد اعمال وو او هُغه بوډا ګس د کوم پهٔ خوا چې تاسو راتیریدلی، هغه ستاسو ښهٔ عمل وو، تاسو د بدو اعمالو پهٔ ذریعه دا دومره کمزورے کړو چې پهٔ دهٔ کښې ستاسو د بدو اعمالو د مقابلې کولو طاقت نهٔ دے پاتې، لهذا تاسو د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې توبه وکړئ او ځان د هلاکت نه د بچ کولو کوشش وکړئ۔

د دې خوب د لیدو نه پس حضرت مالِک بن دِینار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د خوب نه رابیدار شو نو هغوئي رښتوني پخه توبه وکړه او نیک اعمال یــې شروع کړل، تر دې پورې چې **الله** پاک هغوئي د ولایت اوچتې مرتبې ته ورسولو۔ [1]

اَللّٰهُ اَکۡبَر! **اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وکتل د لږ ساعت د قیامت ویره، کومه چې د خوب لیدو پهٔ ذریعه پهٔ زړهٔ کښې راغله، دې د قیامت ویرې د حضرت مالِک بن دِینار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ژوند بدل کړو۔

## نهٔ ویریدل ګناه ده

ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ ویریږو۔ یاد ساتئ چې د **الله** پاک د پټ تدبیر نه بے ویرې کیدل (یعنې پهٔ خپل موجوده حالت باندې مطمئین اوسیدل) ډیره د نقصان خبره ده۔ صحابئ رسول حضرت عمَّار بن یاسِر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: ✿ د **الله** پاک د رحمت نه مایوسه کیدل ✿ د **الله** پاک د مدد نه نا اُمیده کیدل ✿ او **خپل ځان د الله پاک د پټ تدبیر نه محفوظ ګڼل پهٔ لویو ګناهونو کښې ډیر لوي ګناهونه دي۔** [2]

---

1... الروض الریاحین، صفحہ: 157-158 خلاصۃً۔

2... مکارم الاخلاق للطبرانی، صفحہ: 217، رقم: 125۔

## د 70 زاهدانو عبرتناک انجام

حضرت وَهب بن مُنبِّه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په بني اسرائیلو کښې 70 زاهدان (یعنې د دُنیا سره رغبت نهٔ لرونکي نیکان خلق) وو، په هُغه زمانه کښې د هغوئي په شان نیکان خلق نور څوک نهٔ وو، **الله** پاک د هُغه زماني نبي عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي وفرمائیله چې دا 70 کسان به د دُنیا نه کافران ځي- هُغه نبي عَلَيۡهِ السَّلَام په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه: یا **الله** پاکه! د دې څهٔ وجه ده؟ (دا خو ډیر نیکان خلق دي، د دُنیا سره رغبت نهٔ لري، مسلسل نیکۍ کوي، بیا به د دوئي انجام داسې ولې کیږي؟) **الله** پاک وفرمائیل: **ځکه چې دوئي د خپل انجام نه بے فِکره شوي دي-** (1)

اَللّٰهُ اَکۡبَرُ! معلومه شوه چې ویریدل ډیر ضروري دي، د زړهٔ نه چې د **الله** پاک ویره ووځي نو بنده که د نیکانو سردار هم وي نو د لارې نه بے لارې کیدے شي- او په کوم زړهٔ کښې چې د **الله** پاک د ویرې دولت موجود وي، هغه که ګنهګار هم وي نو یو نا یو ورځ به توبه وکړي او د نیکو په لار باندې به روان شي-

الٰہی! میں تیری عطا مانگتا ہوں | کرم مغفرت کی دُعا مانگتا ہوں
بچانا بُرے خاتمے سے بچانا | میں ایمان پر خاتمہ مانگتا ہوں (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## که زهٔ بادشاه وے نو---!!

حضرت اَبُو الجَوزَاء رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به فرمائیل: که زهٔ بادشاه جوړ شوم نو په لارو کښې به دوه غټې مُنارې جوړووم او د هغې د پاسه به یو ګس ودروم او د هغه به دا ډیوټي لګووم

---

1...سلوۃ العارفین، باب الخوف من سوء الخاتمۃ، جلد:2، صفحہ:165۔
2...وسائلِ فردوس، صفحہ:3، 1ملتقطاً۔

چې بس هر وخت هم دا اواز کوه: اے خلقو! دوزخ- اے خلقو! دوزخ- اے خلقو! دوزخ- (1)
لکه چې حضرت اَبُو الجَوزَاء رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیه د دې نه ښۀ خبر وو چې که د خلقو په زړونو کښې د دوزخ ویره پیدا کړے شي نو صرف یو ګس نۀ بلکې ټول قوم د نیغې لارې مسافر جوړیدے شي-

مونږ له پکار دي چې په خپل ځان باندې هم چرته غور وکړو، څومره کرته داسې کیږي چې لږه شان د **الله** پاک نه ویره مونږه ولړزوي او مونږ ګناهونه هیر کړو او نیکې لارې ته راشو- غور وکړئ ❀ آیا د جنازې په لیدو په خُله باندې کلمه مبارکه نۀ جاري کیږي ❀ ناڅاپه چې زلزله راشي نو آیا خلق ګناهونه نۀ پریږدي او د کلمه طیبه ذِکر نۀ شروع کوي ❀ بلکې په حقیقت کښې نۀ، صرف په خوب کښې چې چرته قبر ویني، د قبر څۀ وحشت ناک منظر ویني، د قیامت د وحشت په باره کښې څۀ خوب ویني نو تر ډیرو ورځو پورې یې هغه منظر د سترګو نه نۀ اخوا کیږي، مونږ که چا ته هغه خوب بیان کړو او که بیان یې نۀ کړو، البته په زړۀ کښې چرته نا چرته د هغه خوب اثر ضرور وي او د هغه اثر په وجه د ګناهونو طرف ته په تللو زمونږ ښپې ږچیږي-

د دې نه اندازه ولګوئ چې کله د قیامت په باره کښې د یو خوب دا اثر وي نو که د **الله** پاک نه دا ویره زمونږ په زړونو کښې کښیني نو د دې به څومره فائدې میلاؤیږي-

## د قیامت نه د ویریدو فضیلتونه

**(1):** رسُولِ اکرم ، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د قیامت په ورځ باندې به ټولې سترګې ژړیدونکې وي خو درې سترګې به نۀ ژاړي، په هغې کښې یې یوه سترګه هغه هم وشمیرله کومه چې د **الله** پاک د ویرې نه په دنیا کښې ژاړي-(2)

---

1... مجموع رسائل ابنِ رجب الحنبلی، التخویف من النار، جلد:4، صفحہ:103۔

2... کنز العمال، کتاب المواعظ، جلد:15، صفحہ:356، حدیث:43350۔

**(2):** د حضرت انس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے: يو ځل د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا آيت تلاوت کړو:

وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ

(پارہ:28، سورۂ تحریم:6)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: چې د هغې خشاک انسانان او کاڼي دي.

بيا يې اِرشاد وفرمائيلو: د دوزخ وور تر زرو کالو پورې بَل کړے شو نو سور شو، بيا تر زرو کالو پورې لمبه کړے شو نو سپين شو، بيا تر زر کالو پورې بَل کړے شو نو تور شو، اوس تور دے، دا به چرې هم نۀ مړ کيږي، پۀ دې اوريدو يو حبشي پۀ ژړا شو، حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو او پوښتنه يې وکړه دا څوک دے؟ د **الله** پاک اخري نبي، **مُحَمَّدِ عربي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د حبشې اوسيدونکے دے- جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: **الله** پاک فرمائي: زما دې پۀ خپل عزت او جلال قَسم وي! زما کوم بنده چې پۀ دُنيا کښې زما د ويرې نه وژاړي، زۀ به پۀ جَنَّت کښې هغه ضرور پۀ خندا کووم-[1]

مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دَم تِرے خوف سے یاخُدا یااِلٰہی!
تِرے خوف سے، تیرے ڈر سے ہمیشہ میں تھر تھر رہوں کانپتا یااِلٰہی! [2]

**(3):** رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې د مؤمِن زړۀ د **الله** پاک د ويرې نه لړزيږي نو د هغه خطاګانې داسې رژيږي لکه ځنګه چې د وَچې شوې وَنې نه د هغې پاڼې رژيږي-

**(4):** سرور عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **الله** پاک فرمائي: زما دې پۀ خپل عزت او جلال باندې قَسم وي! څوک چې پۀ دُنيا کښې زما نه ويريږي، زۀ

1...شعب الایمان، باب فی الخوف من اللہ، جلد:1، صفحہ:489، حدیث:799۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔

به د قيامت په ورځ هغه په امن کښې ساتم- [1]

میرا نازُک بدن جہنّم سے | اَز طُفیلِ رضا بچا یارَبّ!
کر دے جنَّت میں تُو جَوار اُن کا | اپنے عطّارؔ کو عطا یارَبّ! [2]

الله پاک دې مونږ ته د الله پاک نه د ويريدو، د قيامت نه د ويريدو، د دوزخ نه د ويريدو دولت راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره مَدَني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د نيکو کولو او د ګناهونو نه د نفرت د جذبې حاصلولو او د الله پاک د ويرې حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د د دِين او د دُنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- د دعوتِ اِسلامي په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار هفته واره مَدَني مذاکره هم ده-

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د د دې وخت عظيم عالم او روحاني شخصيت بلکې کامِل ولي دے، هغوئ د هر خالي په ورځ د ماسخوتن د نمونځ نه پس مَدَني مذاکره فرمائي، يعني د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول د هغوئ نه د تفسير، حديث، شريعت، طريقت وغيره په مختلفو موضوعاتو باندې پوښتنې کوي، امیرِ اهلِسُنَّت د هغوئ د پوښتنو جوابونه ورکوي- هفته واره مَدَني مذاکره په مَدَني چينل باندې نيغ په نيغه (*Live*) ښودلے شي- مَدَني مذاکره د عقيدو او د اعمالو د اِصلاح بهترينه

---

1...شعب الايمان، باب في الخوف من الله، جلد:1، صفحه:491-483، حديث:803-777-
2...وسائلِ بخشش، صفحه:80-81-

**ذريعه ده:** ❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې ډېرو غيرو مسلمو پۀ مَدَني مذاکره کتلو کلمه وئيلې ده ❀ ډېر بے نمانځه نمونځ گزاره شوي دي ❀ د ډېرو زړونو اِصلاح شوې ده-

تاسو هم پۀ مَدَني مذاکره کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ❀ عِلمِ دِين به مو نصيب کيږي ❀ د الله پاک محبت به مو نصيب کيږي ❀ عشقِ رسول به مو زياتيږي ❀ د گناهونو نه به مو نفرت نصيب کيږي ❀ د نيکۍ جذبه به ميلاؤيږي او ❀ اخلاق او کردار به مو هم ښۀ کيږي- ټول اِسلامي ورونړه پۀ پابندۍ سره د مَدَني مذاکرې د کتلو نيت وکړئ!-

## د عِلم او حکمت نه ډکه مَدَني مذاکره

د پنجاب، پاکستان د واه کينټ (پنډۍ ضلعې) د يو ځلمي بيان دے: نمونځونه قضا کول، فلمونه کتل او شيطان خوشحالول او سندرې سازونه وغيره اوريدل او مست اوسيدل زما معمول وو، آه! زۀ پۀ سُنَّتو باندې د عمل کولو نه محرومه ووم، زما د گناهونو نه پۀ ډک ژوند کښې رڼائي څۀ داسې راغله چې يوه ورځ د دعوتِ اِسلامي د يو مبلغ سره زما ملاقات وشو، هغه زۀ پوهه کړم او زما يې پۀ اجتماعي سُنَّت اعتکاف کښې د کښيناستو ذهن جوړ کړو، د هغۀ پۀ ښکلي انداز کښې راکړے شوي د نيکۍ دعوت زما پۀ زړۀ باندې اثر وکړو او زۀ پۀ اجتماعي اعتکاف کښې شريک شوم، بيا زما شپې او ورځې پۀ عبادت کښې تيريدلې، زړۀ راښکونکو بيانونو او ژړغونو دعاگانو زما د زړۀ دُنيا بدله کړه، د کرم د پاځه کرم دا وشو چې پۀ اجتماعي اعتکاف کښې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مَدَني مذاکرې اوريدو سعادت رانصيب شو، د هغوئي د اثرناکو ارشاداتو نه زۀ دومره متاثره شوم چې ما فوراً د خپلو ټولو گناهونو نه توبه وکړه او د نمونځونو د پابندۍ اراده مې وکړه، د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ ترغيب زۀ د اختر پۀ شپه کور ته د تللو پۀ ځائے د الله پاک د لارې مسافر جوړ شوم چرته چې د عِلمِ دِين د حاصلولو موقع پۀ لاس راغله او د سُنَّتو د زده کولو سره سره مې پۀ هغې باندې د عمل کولو جذبه هم نصيب شوه-

مدنی مذاکرہ ہے شریعت کا خزینہ | اَخلاق کا، تہذیب کا، طریقت کا خزینہ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اينډ تفسير) دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې ❀مکمل قرآنِ کريم ❀ د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلې ترجمهٔ کنز الايمان ❀ ډيره اسانه ترجمهٔ کنز العرفان او ❀ په اسان انداز کښې ليکلے شوے تفسير صِرَاطُ الـجنان شامل دے۔ ❀ قرآنِ کريم، ترجمه او تفسير په آډيو ***(Audio)*** کښې هم اوريدے شئ۔ ❀ هره ورځ تلاوت کيدونکي سورتونه بيل جمع کړے شوي دي ❀ د مَدَني چينل تفسيرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ايپلي کيشن په ذريعه په اسانئ سره کتے شئ ❀ نور دا چې قرآني آيتونه، ترجمه او تفسير په وټس ايپ ***(Whats App)***، په فيس بُک ***(Facebook)*** وغيره باندې د خپلو دوستانو سره شيئر کولے هم شئ۔ دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِين زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نيکئ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ۔

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر اتوار په شپه اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي په ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس (تقريباً 8:30 منټ) په مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي،

پهٔ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو ترغیب ورکوي ، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **حضرت بایزید بِسطامي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (***Share***) کړي! ❁ د **الله** پاک صفتي نومونه نهٔ یواځې ژبه پهٔ ذِکر کښې مصروفه ساتي بلکې زړونه د نورانیت او ژوند د رحمتونو نه ډکوي- مکـتبة الـمدینه د **الله** پاک پهٔ نومونو او فضیلتونو باندې مشتمله یو کتاب "**الله پاک کے پیارے پیارے نام(مع فضائل و برکات)**" چاپ کړے دے- د **الله** پاک د نومونو پهٔ باره کښې د ګټه ورو معلوماتو د پاره دا کتاب د مکـتبة الـمدینه د هرې څانګې نه پهٔ **380 روپے** پهٔ بیعه غوښتلے شئ-

د دعوتِ اسلامي ذمه دارانو چې د ټیلي تهون دپاره کوم یونټونه جمع کړي دي براه کرم !هغه فورا په مالیات کښې جمع کړئ او رسید حاصل کړئ-

## صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ كَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قناعت سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين: (1):چا چې ايمان راوړو، بقدرِ كفايت رزق وركړے شو او هغهٔ د الله پاک پهٔ وركړے شوي (رزق) قناعت اوكړو بے شكه هغه كامياب شو-[1] (2): اے ابو هريره! قناعت اختيار كړه د ټولو نه به زيات شكر ګزاره جوړ شي-[2]

اے عاشقانِ رَسُول! قناعت سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے- د قناعت معنٰی ده: چې څومره درته ميلاؤ شو پهٔ هغې رضا كيدل، د زياتو خواهش نهٔ كول ❁ خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته چې به څهٔ ميلاويدل پهٔ خوشحالی به يې خوړل ❁ زمونږ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم په خوراک كښې عيب نهٔ دے راويستے ❁ رسولِ هاشمي، مَكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم د خوندورو او ډيرو ښكلو خوراكونو خواهش نهٔ دے كړے ❁ رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مال او دولت خواهش نهٔ لرلو-

کُل جہاں مِلک اور جَو کی روٹی غذا | اُس شکم کی قناعت پہ لاکھوں سلام[3]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! پهٔ سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل اوكړئ، قناعت اختيار كړئ ❁ قناعت د ايمان كمال او د اسلام حُسن دے ❁ قناعت كوونكے پخپله د دنيا نه ځان بچ كوي او د اخرت په لار روانيږي ❁ قناعت كوونكے

---

1 ...مسلم، کتاب:الزکاۃ، باب:القناعۃ، صفحہ:376، حدیث:1054۔

2 ...ابن ماجہ، کتاب:الزہد، باب:الورع والتقویٰ، صفحہ:684، حدیث:4217ملتقطًا۔

3 ...حدائق بخشش، صفحہ:304۔

د الله پاک محبوب دے ❁ د قناعت کوونکي سره خلق هم مینه کوي [1] ❁ امامِ شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: قناعت د مالدارۍ اَصل دے۔[2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعني د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعې او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبۡر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې

---

1...نضرة النعیم، جلد:8، صفحہ:3175۔
2...دیوانِ امام شافعی، صفحہ:133۔

كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې په

---

1 ...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2 ...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

3 ...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَافِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوک ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغهٔ د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵